جرمني: د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند ٢٠١٣/٠٦/٢٤

# المان: دپوهنيز(علمي) سيمينار راپور

جرمني: د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند Pashtoon Social Demoratic Party (PSDP ) د المان دفرانکفورت په ښارکښې په ٢٠١٣/٠٦/٢٢ نېټه د خالي (شنبې) په ورځ د،، پښتنو په سيمو کښې دجګړې لاملونه او له جګړې څخه د خلاصون لارې چارې.،، تر سرليک لاندې پوهنيز(علمي) سيمينار جوړ کړ.

په سيمينارکښې د المان د ليرې او نزدې ښارونو سربېره د اروپايي هيوادونو څخه د هيوادنامتو پوهانو، سياسي، ټولنيزو، ولسي ادبي سرېتوبونو(شخصيتونو)او د نظرخاوندانو، ګډون کړی ؤو.

په پيل کښې د ښاغلي محمد صادق خان له خوا د قران کريم څو مبارک اياتونه تلاوت شول.

د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند دفرانکفورت د څانګې جنرل سيکرټري ښاغلي سيدعلي شاه له خوا د غونډې ګډونوالو ته د هرکلی ويلو وروسته، د پښتنو په ملي ترانه (ای زما وطنه د لالونو خزاني زما ) سره سيمينار پيل شو، چې دستيج چارې ئې ښاغلي طاهر مسافر پرمخ بيولې.

**لومړی د ګوند د بهرنيو اړيکو سيکرټري او د فرانکفورت د څانګې مشر ښاغلی لالا اقبال د ګوند په فعاليتونورڼا واچوله. وروسته د ګوند مشر ښاغلي علي خان محسود دپښتنو په سيمو کښې دجګړې په لاملونو اودلرې او برې پښتونخوا په روانو سياسي حالاتو خپله ارزښتناکه وينا واوروله، ده وويل چې د پښتنو د ستونزو حل په قامي يووالي کښې پروت دی او په ګډه بايد ورته ګډکار وشي.**

**دګوند لومړي مرستيال ښاغلي محمد شيرين ګرديوال، ځوانانو ته دخپلو وړانديزونو په يوه برخه کې په ځوانانو غږ وکړ چې دپښتو ژبې، ادب او کولتور د بډاينې او ودې لپاره په سياسي او کولتوري ډګر کښې فعاله ونډه واخلئ.**

**د پښتون قامي وحدت ستر لاربنود او د عوامي نيشنل ګوند مشر ښاغلی محمد افضل خان (خان لالا)** له پښتونخوا څخه د تليفون پرليکه **د سيمينار ګډونوالو ته دخپلې ارزښتناکې وينا په يوه برخه کښې وويل: چې انګزيزانودپښتون قام په ١٨٩٣ کښې څلور ټوټې کړاو ددی قام د ملا تيرئې مات کړ هغه زياته کړه، د پښتنو د نوې کول (نسل) دقومي وحدت احساس د رابيدارولو لپاره بايد غونډې او سيمينارونه جوړ شي، خان لالا وويل: که زمونږ قومی وحدت حاصل شی، نو دلته امن راځی ، ايشيا او ټوله نړی به په امن کښې وي.**

**د محمدافضل خان لالا د خبرو وروسته** د عوامي نيشنل ګوند مرستيال (سينير نائب صدر) ښاغلي حاجي غلام احمد بلور د تيليفون پرليکه د سيمينار ګډونوالو ته په خپل پيغام کښې د پښتنو په خاوره په روان ناورين او لدې څخه د خلاصون په لارو چارو رڼا واچوله او د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند هلې ځلې ئې وستايلې.

**وروسته** د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند **دانګلستان د څانګې مشر ايډوکيټ يوسف علي خان د خپلې ارزښتناکې وينا په پاې کښې د خوشال بابا او غني خان بابا څو په زړه پورې شعرونه واورول. چې د ګډونوالو له خوا په چکچکو بدرګه کيدل.**

**د افغانستان دسيمه ايزو مطالعاتو د مرکز مشر ښاغلي عبدالغفور ليوال راليږل شوې پوهنيزه او څېړنيزه مقاله** (دپښتنو امن) **ترسرليک لاندې دښاغلي مطيع الله روفي له خوا ولوستل شوه. ښاغلي ليوال صاحب په خپله مقاله کې** په وينو او بدمرغيو لړند پښتون قوم،د ژغورنې لپاره **په ملي رهبرئ او** دژغورنې په لومړی پړاو(ويښتيا) دژغورنې په دوهم پړاو(روښانتيا) او دژغورنې په دريم پړاو ( بدلون) رڼا اچولې او د ژغورنې لارې چارې ئې په ګوته کړې وې.

**وروسته د ښاغلي ډاکتر مسود سرلوڅ مرادزي صاحب راليږل شوي پوهنيزه (علمي) او څيړنيزه مقاله د ښاغلي مبارز څاپې له خوا ولوستل شوه. ښاغلي ډاکتر مرادزي** د پښتنو پر سيمه، کړکېچ او جګړه کې په کورني او بهرني ټاکلي لاملونو رڼا اچولې او **د خپلې مقالې په يوه برخه کښې ويلې، چې** د پښتنو پر سيمه تپل شوې، روانه شخړه او جګړه، نه يوازې زموږ په سيمه، بلکې په نړيواله کچه، د غټو پيښو او شخړو منځړي جوړوي. په دې جګړه کې له پښتنو سربېره د پښتنو ګاونډيان، ورځېړمه هيوادونه او په يوه يا بله بڼه ټوله نړی راښکېل ده. خو د جګړې اصلي



افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

قرباني ښتانه دي، نن باید د ښتنو ټوله هڅه لکه څنګه چې د سیمینار موضوع ورته ښېله شوې د جګړې پای، د سولې بسیا او د امنیت د ټینګښت پرمحور راوګرځول شي.

د پيغامونو په لړ کښې د افغانستان د ملي يووالي ګوند پيغام د ښاغلي پيښوری شينواری له خوا ولوستل شو.لدې وروسته، **ښاغلي مبارز څاپي، ښاغلي نسيم ستوري،ښاغلي واجد بهرام، پيغلې مدينه دونيا احمدزی، ښاغلي اباسين لالپور وال، ښاغلي مطيع الله روفي، ښاغلي يوسف علي خان او ښاغلي محمدالله مسعوديار شعرونه ووېل چې د ګډونوالو له خوا په چکچکو بدرګه کېدل.**
**د يادونې وړ ده چې د پښتو، پښتونولی سره د بې کچې مينې لرونکی دلوې پښتونخواپېژندل شوی او منل شوی ممثل اوفنکار ښاغلي اسماعيل شاهد، چې د ټوکو ټکالو، تمثيل او فن په ډګر کې سيال نه لری، زمونږ سره برخه واخسته او سيمينار ته ئې لا ښکلا وبخښله او په خپل فن سره ئې دغونډې فضا لا رنګينه کړه.**
**د سيمينار د ټنګ ټکور برخه له پښتونخواڅخه سيمينارته رابلل شوي خوږ غږي سندرغاړي او موسيقی جوړونکي ښاغلي ماسټر علي حيدر په زړه راښکونکي اواز چې ښاغلي وحيد احمد بابو، نجيب خان او ايراج ورسره ملتيا کوله ښکلې شوې وه.**
**غونډه دملي اتڼ په کولو سره دشپې په يوه بجه پای ته ورسيده.**

پای
https://plus.google.com/photos/yourphotos?banner=pwa


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ